مسیر
ورځپاڼه
نوی لید، نوی مزل
www.maseerdaily.af
چهارشنبه د ۱۳۹۹ د سلواغې ۲۲مه | د ۲۰۲۱ د فبروري لسمه | ٦٧٩یمه ګڼه

2 017550 139621

# په ټپه ولاړ مذاکرات؛

## ارګ د مذاکراتي پلاوي پنځه غړي کابل ته رابللي دي




۳

### ایا حکومت پنځمه حوزه له واکه بهر ګڼلې ده!؟

۲ مخ

### د ملي امنیت په اړه د شي جین پینګ نوی جامع لید لوری...

۲ مخ

### د ایران د نیابتي جګړې نوې جبهه

۳ مخ

## صالح: طالبان لاهم له القاعده او نورو ترهګرو سره اړیکې پالي

د ولسمشر لومړي مرستیال امرالله صالح ویلي، چې طالبان لا هم له القاعده شبکې سره خپلې اړیکې پالي.

دا په داسې حال کې ده چې د امریکا - طالبانو په تړون کې د هغو ژمنو په مقابل کې چې امریکا له طالبانو سره کړې، له دې ډلې یوه لویه تمه دا ده چې دغه ډله به له ترهګرو سره اړیکې پرې کړي.

خو اوس لوپوړي افغان او امریکایي چارواکي وایي، چې طالبانو خپله دغه ژمنه نه پر ځای کړې او لاهم د القاعده په ګډون له نورو ترهګرو ډلو سره اړیکې پالي.

د ولسمشر غني لومړي مرستیال امرالله صالح له فرانس ۲۴ ټلوېزیون سره په یوه مرکه کې ویلي، چې القاعده عملاً د طالبانو ترڅنګ په افغانستان کې جنګېږي.

صالح زیاتوي: «د ۲۰۲۰ز کال له فبروري وروسته چې طالبانو ژمنه کړې وه د القاعدې کوربه‌توب به نه‌کوي، د هغوی په لیکو کې لا هم القاعدې فعالیت کاوه. د القاعدې درې مشران په نومبر کې له‌منځه یوړل شول، دا له هغې ژمنې څو میاشتې وروسته وه چې (طالبانو) له نړیوالو ترهګریزو شبکو د جلا کېدو په خاطر سپارلې وه. همدارنګه ملګرو ملتونو اټکل کړی دا اوس چې زه له تاسو سره غږېږم لږ تر لږه ۵۰۰ بهرني ترهګر چې اکثراً له القاعده سره تړلي، د طالبانو ترڅنګ په افغانستان کې جنګېږي.»

## امریکا:
## طالبانو په بریدونو او هدفي وژنو کې د پام وړ ډېروالی راوستی



۵ مخ

## کتاب


۴ مخ

### مفسد




دا یو له هغو ګوته په شمار ناولونو څخه دی چې نوي څه پکې وینو. موضوع یې خورا ډېره په زړه پورې او جالبه ده. دا ناول د اوسنیو حالاتو مطابق لیکل شوی دی. هغه څېرې راته واضح کوي چې ډېر کسان ورباندې غولېدلي دي او ډېر غریب خلک د دوی د لاس آلې ګرځېدلي دي.

## کرنې ریاست: روان کال په لوګر کې ۱۷۰۰ بڼونه جوړ شوي دي



د لوګر ولایت د کرنې ریاست چارواکي وايي، چې روان کال یې د بڼوالۍ د ودې او پراختیا په پار د بېلابېلو مېوو شاوخوا ۱۷۰۰ بڼونه جوړ کړي دي.

د لوګر ولایت د کرنې رییس عبدالله تسل په وینا، د یاد ولایت په مرکز او ټولو ولسوالیو کې د بڼوالۍ د ودې او پراختیا په پار ۱۵۰۰بڼونه د بڼوالۍ او مالدارۍ ملي پروژې او پاتې ۲۰۰جریبه یې د خلکو په ګډون د کرنې او مالدارۍ پروژې او کرنې ریاست په ګډې همکارۍ د ډول ډول مېوو لرونکو ونو چې ټولیز شمېر یې ۱۷۰۰ ته رسیږي، د بڼوالو په ۴۰ سلنې ونډې سره جوړ کړي دي.

په ورته وخت کې د بڼوالۍ د پراختیا، پالنې او روزنې په پار عملي لارې چارې ښودل، په عصري او نویو سیستم سره بڼونه جوړول او روزنیز پروګرامونه، هغه څه دي چې د کرنې ریاست او همکارو پروژو له لارې سږکال بڼوالو ته ترسره شوي دي.

## وزارت امور مهاجرین:
## در سال جاری حدود ۸۵۰ هزار نفر به کشور بازگشته‌اند

وزارت امور مهاجرین و عودت‌کننده‌گان اعلام کرده است که در سال مالی ۱۳۹۹ حدود ۸۵۰ هزار مهاجر افغان از کشورهای میزبان، به کشور بازگشته‌اند.

نوررحمان اخلاقی، وزیر امور مهاجرین و عودت‌کننده‌گان که روز سه‌شنبه، در نشست «حساب‌دهی دولت به ملت» صحبت می‌کرد، گفت که بازگشت دواطلبانه با عزت و مصون مهاجران از اولویت‌های دولت به شمار می‌رود.

اخلاقی توضیح داد که در سال گذشته مالی از میان ۲۴ برنامه در امور مهاجرین و عودت‌کننده‌گان، ۲۰ برنامه آن اجرا شده است.

به گفته او، عامل اصلی مهاجرت و بی‌جاشده‌گی طی ۲۰ سال گذشته طالبان بوده است و در حال حاضر ٦.۵ میلیون مهاجر افغان در بیرون از کشور به سر می‌برند.

وزیر امور مهاجرین و عودت‌کننده‌گان گفت: «درحال حاضر حدود ۲.۵ میلیون مهاجر افغان در سه حالت- داشتن کارت‌های آمایش، پاسپورت و فاقدین مدرک- در ایران زنده‌گی می‌کنند که از این شمار یک میلیون و ۴۷۰ هزار تن آن‌ها دارای مدرک، حدود ۹۵۰ هزار تن دارای کارت آمایش، ۴۵۰ هزار تن دارای پاسپورت خانوار و ۷۰ هزار تن دارای پاسپورت اقامت طویل مدت و اقامت هستند.»

به گفته اخلاقی، وزارت امور مهاجرین کارت‌های مهاجرت افغان‌های مقیم ایران را برای یک‌سال تا ختم ۱۳۹۹ تمدید کرده و هم‌چنان روند تمدید پاسپورت‌های خانواده‌گی مهاجران از ۱۵ دلو سال روان آغاز شده و قرار است تا آخر سال ۱۴۰۰ تمدید شود.

Aksos
اکسوس کتابپلورنځی
Aksos Book Store
Add a Book to Your Life
دهبوری پارک جنوبي دروازې ته مخامخ
0798-98-9696, 0202504652
aksosbookstore@gmail.com
www.aksosbookstore.af
Aksos Book Store
Aksos Book Store

## سرلیکنه

# ایا حکومت پنځمه حوزه له واکه بهر گڼلې ده!؟

په کابل ښار کې پرون بیا هم وژونکې پېښې وشوې. تر ټولو وژونکې او خونړۍ پېښه د کابل په پنځمه حوزه کې وه چې د وردگو د کلیو او پراختیا د رییس په گډون پکې څلور کسان ووژل شول او څو نور ټپیان شول. په کابل ښار کې نږدې هره ورځ د چسپکي ماینونو چاودنې او بریدونه کېږي چې حکومت یې په مخنیوي کې پاتې راغلی دی.

د کابل په ډېرو برخو کې بریدونه کېږي، خو پنځمه حوزه تر ټولو نورو خونړۍ او وژونکې ده. له چسپکي ماینونو نیولې تر هدفي وژنو، غلاوو او نورو جرمونو پورې، په دې حوزه کې هر څه روان دي.

حکومتي چارواکو تل په کابل ښار کې د چاودنو، بریدونو او ناامنیو د مخنیوي ژمنې کړې دي، د پنځمې حوزې په اړه یې ژمنې ځانگړې هم وې، خو نه یې د ټول کابل ښار او نه یې هم د پنځمې حوزې په اړه ژمنې عملي کړې دي. د دې سیمې اوسېدونکي او د پېښو څارونکي وایي چې تر بلې هرې سیمې دلته بریدونه، وژنې او ناقانونې ډېرې دي، خو حکومت لاس تر زنې ناست دی.

په دې سیمه کې د وردگو قومي شورا څو میاشتې وړاندې ویلي وو چې یوازې د وردگو قوم ۸۷ مخور او کادرونه په دې حوزه کې وژل شوي دي. د دې تر څنگ گڼ نور خلک هم په نښه شوي چې کره شمېر یې نشته.

داسې ښکاري چې پنځمه حوزه د حکومت د پوره واکمنۍ سیمه نه ده، ځکه پکې دا ډول پېښې کېږي. کله خو د پېښو زیاتوالی او ډول داسې وي چې د سیمې خلک فکر کوي حکومت دا سیمه وسله والو مخالفینو، ناقانونه وسله والو، نورو ورانکارو ډلو، غلو او وژونکو ته ور پرې اېښې ده او پر دې سیمه یې د هغوی واکمني منلې ده. یا هم د حکومت چلند داسې دی چې په دې سیمه کې د نا امنیو، وژنو او غلاوو له لاملینو سره د ټکر او د هغوی د مخنیوي وړتیا نه لري او یا هم نه غواړي چې مخه یې ونیسي. یوازې وسله وال مخالفین په دې سیمه کې فعال نه دي، بلکې تر ډېره ناقانونه وسله والې ډلې، غله او وژونکي چې په سیاسي مشرانو پورې اړه لري، په دې سیمه کې فعال دي. حکومت خو یا له دې سیاسي مشرانو سره معاملې لري او د هغوی د سیاسي ملاتړ په بدل کې یې پنځمه حوزه هغوی ته ور پرې اېښې ده او یا هم نه غواړي چې د غلو، وژونو او ناقانونه وسله والو پر ضد په گام اخیستلو سره هغوی خپه کړي.

پنځمه حوزه اوس خونړۍ ده، هره ورځ پکې خلک وژل کېږي او نورې پېښې کېږي، خو حکومت یې پر وړاندې غلی دی. حکومتي چارواکي تېروتنه کوي، ځکه چې که پنځمه حوزه ناامنه شي او دلته وسله وال مخالفین واکمن وي، نو ټول کابل گواښلی شي. همدا وس وخت دی چې حکومت پنځمې حوزې ته پام وکړي، هلته د وژنو، غلاوو او نورو ناقانونه کړنو مخه ونیسي او سیمه امن کړي. له دې پرته به نه یوازې بیا پنځمه حوزه له کنټروله وتلې وي، بلکې ټول کابل به یې نا امن کړی وي.



# د ملي امنیت په اړه د شي جین پینگ نوی جامع لید لوری د چین - افغانستان امنیتي همکارۍ نوي پړاو ته رهنمایي کوي

لیکنه: وانگ یو
په افغانستان کې د چین لوی سفیر

د چین د دولت رییس شي جین پینگ د کمونېست گوند له اتلسم ملي کانگریس راهیسې په تاریخي لوري گام پورته کړی او ځینې ستراتیژیکې تگلارې، راتلونکی لید، نوې مفکوره او ساینسي نظریې یې وړاندې کړې دي، د ټولو قومونو په مشرۍ یې د نسبتاً شتمنې ټولنې د ابادۍ او د بې وزلۍ د له منځه وړلو په برخو کې نوې هراړخیز بریالیتوبونه تر لاسه کړي او د عصري سوسیالیستي هېواد د ابادۍ پر نوې لارې یې گامونه اخیستي دي. رییس شي جین پینگ په ۲۰۱۴ کال کې په تخلیقي ډول د عامه ملي امنیت مفهوم وړاندې کړ او د چین امنیتي کاري سیستم د ښه والي، د ملي امنیت د ظرفیتونو لوړولو او د سیمه ییز امنیت د همکاریو د پیاوړتیا لپاره یې داسې راتلونکي ترتیبات نیولي، چې د چین - افغانستان د امنیتي همکارۍ نوې کچې ته رهنمایي کوي.

« د عامه ملي امنیت مفهوم» چیني ځانگړتیاوې لري او د ملي امنیت ارزښتونه، کاري نظریات او میکانیزمونه پکې وړاندې شوي او د ملي امنیت د داسې سیستم په لټه کې دی، چې سیاسي امنیت، حاکمیتي امنیت، نظامي امنیت، اقتصادي امنیت، کلتوري امنیت، ټولنیز امنیت، تخنیکي امنیت، معلوماتي امنیت، ایکولوژیکي امنیت، د سرچینې امنیت او اټومي امنیت پکې مدغم وي، څو د اوسنیو پیچلو امنیتي ننگونو پر وړاندې فعال غبرگونونه وښیي. د کوویډ-۱۹ له خپریدو وروسته د وبا پر ضد د چین د مبارزې بهیر د عامه ملي امنیت پر مفهوم ولاړ دی. د چین د مبارزې دغه بهیر په غیر دودیزو امنیتي برخو کې د بایو امنیت په اړه د رییس شي جین پینگ له لید لوري سره سم پرمخ روان دی او د دې ترڅنگ په مرکز کې د خلکو ځای‌پرځای کولو، د کړکیچ د پوهاوي په پیاوړتیا، د مبارزې روحیې پر مخ وړلو، د ناروغۍ پر وړاندې د مبارزې بری او په چین او نړۍ کې د خلکو د خوندیتوب او روغتیا په خوندي کولو ټینگار کوي.

د عامه ملي امنیت په مفهوم کې «گډ، جامع، همکارانه او دوامداره امنیت» له گاونډیو هیوادونو سره د چین د تبادلې دایمي مقصد رانغښتل شوی دی. دلته به د عامه ملي امنیت مفهوم کې پر یادو څلورو ټکو لږه رڼا واچوم. گډ: دلته له دغه ټکي موخه دا ده، چې امنیت باید نړیوال او مساوي وي او د هر هیواد امنیتي گټو ته باید درناوی او تضمین ورکړل شي. جامع: دلته له جامع څخه مقصد دا دی، چې په دودیزو او غیر عنعنوي برخو کې د امنیت همغږي کول او ساتل اړین دي. همکارانه: له دغه ټکي هدف دا دی، چې د بېلابېلو هېوادونو او سیمو د امنیت لپاره باید خبرې اترې او سلامشورې وشي او ټول باید امنیت ولري. دوامداره: دلته له دغه ټکي موخه دا ده، چې د تلپاتې امنیت لپاره باید د پرمختگ او خوندیتوب دواړه مفهومونه رامنځته شي.

یوه چیني اصطلاح وایي: پوه کسان د وخت او حالاتو له بدلونونو سره خپله ستراتیژي او تگلاره بدلوي. د عامه ملي امنیت مفهوم د نظامي اتحاد رامنځته کولو او د وسلو پیاوړتیا لپاره له زاړه امنیتي مفهوم سره توپیر لري او یاد عامه امنیتي مفهوم په سیمه کې د تلپاتې سولې او گډې پراختیا لپاره له همکاریو او ورخلاصون څخه استفاده کوي، مقاومت او منسلک ته ځای نه ورکوي. د عامه ملي امنیت مفهوم د بېلابېلو هیوادونو په امنیتي وضعیت کې توپیرونه، د غیر دودیزو برخو پېچلي تضادونه او د اقتصادي او ټولنیز پرمختگ انډول او برابرۍ په پام کې نیسي او داسې میتودونه او مفهومونه پکې وړاندې شوي، چې د افغانستان په گډون د سیمې د نورو هېوادونو د ملي امنیت له ضمني او پیچلي وضعیت سره برابر دي، چې نه یوازې د اوسنیو خورا مهمو امنیتي ستونزو د حلولو لپاره اړین دي، بلکې د مختلفو پټو گواښونو د له منځه وړلو لارې چارې هم پکې روښانه شوې دي. لنډه دا چې د افغانستان په گډون د سیمه ییزو تودو مسئلو د حل لپاره چیني ځیرکتیا او نقشه پکې وړاندې شوې ده.

د چین د نړیوالو مطالعاتو انستېټیوت څه موده مخکې «په نویو حالاتو کې د تروریزم پر وړاندې گډه مبارزه» په نوم یو نړیوال سمینار تر سره کړ. د چین د بهرنیو چارو وزارت معین لوو جاو هوي هم په دغه سمینار کې گډون کړی و او وینا یې وکړه. نوموړي په خپلو خبرو کې په اشارې وویل، چې غیر دودیز امنیتي گواښونه بین المللي مقابلې ته اړتیا لري. نړیوال باید یوازې د ببړنیو پېښو پر وړاندې مقابله ونه کړي، بلکې د غیر روایتي امنیتي مسئلو پر وړاندې باید پرله‌پسې، دوامداره او اوږدمهاله مقابله وکړي. ځینې هیوادونه د یو اړخیزتوب او ځورونې سیاست پر مخ وړي او د تروریزم پر ضد مبارزې ته سیاسي رنگ ورکوي او یوه وسیله یې گرځولې، چې دا پر اړوندو نړیوالو همکاریو منفي اغیزه کوي او نړیوال باید دې ته پاملرنه وکړي.

د تروریزم پر ضد نړیواله همکاري باید له نړیوالې اجماع څخه کلکه دفاع وکړي، د یونیفورم معیارونو ته باید غاړه کیږدي او پر سیمو خور تروریزم باید له منځه یوسي او پر وړاندې یې باید اغېزمن اقدام وکړي.

کرونا وبا د تروریزم پر وړاندې د مبارزې نړیوال وضعیت لا پیچلی او جدي کړی، نو د سمینار ټولو برخه والو موافقه وکړه، چې نړیواله ټولنه باید ټینگ یووالی وساتي او څو اړخیزتوب تعقیب کړي او د تروریزم په گډون غیر دودیزو امنیتي ننگونو ته په گډه ځواب ووایي. موږ باید یو متحد سټنډرډ ته غاړه کیږدو، د «دوه گونو معیارونو» پر وړاندې باید روښانه مخالف دریځ ونیسو، د نړیوالې اجماع کلکه دفاع وکړو او د تروریزم پر وړاندې مبارزې ته د سیاسي رنگ ورکولو او وسیلې کارولو او ځان غوښتنې سره مخالفت وکړو. موږ باید هراړخیزو اقداماتو ته غاړه کیږدو، بیړنۍ او اصلي مسئلې باید حل کړو، د تروریزم مخنیوی او تندلاري باید لرې او پر هر ځای کې باید د تروریزم جرړې وباسو. موږ باید پر ورخلاصون او زغم ټینگار وکړو او تروریزم باید له کوم ځانگړي هېواد، ملت یا مذهب سره ونه تړو.

څلوېښت کاله کیږي، چې په افغانستان کې د جگړې اور بل دی او دغه هیواد یې سوځولی دی. تاریخ ته په کتو، چین د افغانستان ملي حاکمیت، خپلواکۍ او ملي وقار ته همیشه درناوی کړی او افغانستان یې هیڅ نه دی ځورولی. چین او افغانستان د امنیت گډ برخلیک لري او د افغانستان امنیت او ثبات د چین په گټه دي. رییس شي جین پینگ د ۲۰۲۰ کال په نومبر کې د شانگهای د همکارۍ سازمان د غړیو هیوادونو د مشرانو شورا په شلمه غونډه کې پر سیمه ییز امنیت او ثبات د افغانستان د وضعیت اهمیت تکرار کړ او خپلو خبرو کې یې پر دې ټینگار وکړ، چې له افغانستان سره به د سولې او بیارغونې په لاسته راوړلو کې مرسته وکړي. چین په تیرو څو کلونو کې د دوه اړخیزو چینلونو له لارې له تروریزم سره د مبارزې او امنیت په برخو کې له افغانستان سره همکارۍ غښتلې کړې دي، د چین - افغانستان - پاکستان د بهرنیو چارو وزیرانو د خبرو اترو میکانېزم له لارې یې د تروریزم ضد مبارزه کې خپل هوډ بیا تایید کړی. چین د شانگهای د همکارۍ سازمان او د تروریزم پر ضد د څلورو هیوادونو «چین -افغانستان- پاکستان او تاجکستان» د پوځونو د همغږۍ میکانېزم له لارې د افغانستان له اړوندو هلو ځلو څخه ملاتړ کوي.

چین د افغانستان مسئلې په اړه بېلابېلو نړیوالو میکانېزمونو کې گډون کړی او د افغانستان له ټولو پربکړو څخه یې ټینگ ملاتړ کړی دی. چین د دې مخالفت کوي، چې بیروني ځواکونه د افغانستان په داخلي چارو کې لاسوهنه کوي او بهرني ځواکونه باید په منظمه او مسوولانه توگه له افغانستان څخه ووځي، څو په دغه هېواد کې دایمي سوله رامنځته شي.

پر دې سربېره، چین د افغانستان ملاتړ کوي، چې خپلې امنیتي مسئلې حل کړي او پرمختگ ومومي. چین د افغانستان د سولې او بیارغونې په بهیر کې له دغه هیواد سره د اقتصاد او سوداگرۍ، د زیربناوو جوړولو، انرژۍ او نورو برخو کې همکارۍ ته ډېر اهمیت ورکوي او د افغانستان د ځانگړو محصولاتو ( جلغوزي، زعفران، غالۍ.......) لپاره یې د ترانسپورټ دهلیزونه پرانیستلي او خپل کورنی بازار یې ورته خلاص کړی دی. چین د دې هڅونه کوي چې افغانستان د «یو کمربند او یوې لارې» په چوکاټ کې له سیمه ییزو هېوادونو سره پیوستون وکړي، خپل امتیازي رول ولوبوي او خپل انکشافي توان لوړ کړي، څو ډېر ژر پر خپل ځان بسیا شي. چین په افغانستان کې د کوویډ-۱۹ له خپریدو راهیسې، د دې ناروغۍ پر وړاندې له دغه هیواد څخه کلک ملاتړ کړی او په شپږو جوپو کې یې شل ټنه مرستندویه مواد ورلیږلي دي. کله چې په کابل کې د خوړو بیې ډېرې لوړې شوې، چین د وریجو، اوړو او غوړیو په گډون د کابل اوسیدونکو لپاره لومړني توکي واخیستل او پر بې وزلو وگړیو یې وویشل. چین په دې وروستیو کې د افغانستان شمالي ولایتونو ته ژمني توکي برابر کړل او دغه هیواد ته یې مرستندویه خوراکي توکي ولیږل، په دې هیله چې اړمنو افغانانو تود ژمی تېر کړی وي.


چین له افغانستان سره یو ځای د داسې گډ پرمختگ هوډ لري، چې بیا بدل نشي. چین به په راتلونکي کې په خپل امتیاز او نړیوال حیثیت سره د افغانستان د سولې او روغې جوړې بهیر منظم پرمختگ وهڅوي، له افغانستان سره به د «یو کمربند او یوې لارې» د جوړولو په هکله د چین او افغانستان د گډ تفاهم یادانښت پلی کړي او د افغانستان د اقتصادي او ټولنیز پرمختگ او د امنیت ظرفیت جوړونې لپاره به تر وسې مرستې برابرې کړي. چین هیله لري چې له افغانستان سره یو ځای نیکمرغه او ښکلي راتلونکي ته ښه راغلاست ووایي.

# اترا: روان کال جگړو او ناامنیو مخابراتي سکټور ته ۱۵ میلیونه ډالره زیان اړولی

د مخابراتي خدمتونو د تنظیم اداره یا اترا وایي، په ۱۳۹۹ کال کې امنیتي ستونزو د مخابراتي خدمتونو او ښه پوښښ پر وړاندې لوی گواښ جوړ کړی و.

د دې ادارې د معلوماتو پر بنسټ، په یاد کال کې ۳۰۸ مخابراتي ټاورونه په قسمي یا هم په بشپړ ډول لەمنځه وړل شوي دي. د دې ادارې ویاند سعید شینواري ویلي، له یاد شمېر ۱۶۲ مخابراتي ټاورونه په بشپړ ډول او ۱۴۶ نور بیا په قسمي ډول ویجاړ شوي دي.

هغه زیاته کړې: «د دې ۳۰۸ تخریب شویو مخابراتي ټاورونو له شمېر ۷۸ د افغان ټېلېکام، ۷۸ د اتصالات، ۸۸ د افغان بیسیم، ۳۲ د ام ټي اېن او ۴۱ نور بیا د روشن مخابراتي شبکې اړوند وو چې د ویجاړېدو له امله یې مخابراتي سکټور ته ۱۵ میلیونه ډالر زیان اوښتی دی.»



د شینواري په خبره، په ۱۳۹۹ کال کې ۱،۲۰۰ نور مخابراتي ټاورونه د امنیتي گواښ لاندې وو او د ۲۴ ساعته فعالیت مخه‌یې نیول شوې وه. د مخابراتي خدمتونو د تنظیم اداره له ټولو لورو غواړي چې د افغانستان د راتلونکې ۱۰۰ کلنې دې شتمنۍ د ساتنې په برخه کې ورسره مرسته وکړي، خو طالبان بیا د مخابراتي ټاورونو دغه شمېر وېجاړېدل نه مني.

د طالبانو ویاند ذبیح‌الله مجاهد ویلي، په قصدي ډول د سلام شبکې پرته د هېڅ یوه شرکت مخابراتي ټاور نه دی په نښه شوی. هغه زیاته کړې: «دومره ډېر له منځه نه دي تللي، دا ادعا سمه نه ده.»

مجاهد وایي، که په کومه سیمه کې جگړه شوې وي او زیان اوښتی وي، په دې اړه دوی څه نه شي ویلی، خو په قصدي توگه داسې کوم کار نه دی شوی، خو دا مني چې یوازې د سلام مخابراتي شبکې پایې دوی نړولې دي.

د یادونې ده چې د مخابراتي شبکو د پایو او انتنونو د تخریب خبره نوې نه ده، خو په یوه کال کې په دومره شمېر د مخابراتي ټاورونو ویجاړول او مالي زیان یې د افغانستان مخابراتي سکټور اندېښمن کړی دی.

له دې وړاندې د افغانستان له بېلابېلو ولایتونو هم شکایتونه شوي، چې په سیمو کې یې د شپې لەخوا مخابراتي شبکې کار نه کوي او د دغه کار علت هم د طالبانو له خوا پر مخابراتي شبکو وضع شوی محدویت بلل شوی دی.

# د ایران د نیابتي جګړې نوې جبهه

مرسلین ارسلا

**وروستۍ برخه:**
**په سیمه کې د ایران نفوذي ډلې؛ له دوو ادرسونو د دریو اهدافو لپاره**

د افغانستان د استخباراتي ادارو له سترګو پټ په ۲۰۱۸ کال کې د افغانستان مرکزي سیمو ته د ایران انقلاب ساتونکي ځواک د اوسني مشر، اسماعیل قآني سفر په افغانستان کې د ایران نفوذ او ښکېلېدو ژورتیا ښیي؛ خو په سوریه کې د ایران په ګټه د پاکستاني جنګیالیو ذینبیون او افغان جنګیالیو فاطمیون اتحاد د سیمې لپاره نوی سرخوږی پیدا کړی. اوسمهال ذینبیون جنګیالي د پاکستان په کراچۍ ښار، کورمې اجنسۍ، کوټې او ګلګت بلتیستان کې میشت دي او د سعودي عربستان له ملاتړه برخمنو سلفي ډلو سره یې مذهبي مخالفت پیل او فزیکي نښتې یې هم تر منځ شوې دي. د مذهبي اورپکو دا کرښه په کراچۍ کې نه ختمېږي، بلکې ان د هند تر ښارونو رسیدلې، چیرته چې د جیش الهند شیعه ډلې په هند کې سر راپورته کړی او لومړنی ګزار یې هم د اسراییلو پر سفارت و.

روسیه او ایران له افغانستان څخه د امریکایي ځواکونو وتل غواړي، خو توپیر یې دا دی چې روسیه د مشروط او تدریجي وتلو غوښتنه لري. ایران چې په وروستیو میاشتو کې د اسراییلو او ځینو عربي هیوادونو تر منځ د ابراهیمي تړون له عواقبو په وېره کې دی او د منځني ختیځ په هیوادونو کې د اسراییلو د استخباراتي جال غوړېدو یې ګټې او نفوذ له خطر سره مخ کړي، غواړي د هند له ادرسه د اسراییلو، د پاکستان له ادرسه د سعودي عربستان او د افغانستان له ادرسه د امریکا له ګواښه ځان وژغوري او د دې کار لپاره د جیش الهند، فاطمیون او ذینبیون ډلې مناسبې نیابتي وسیلې دي.

جوبایډن لا دمخه روسیې ته ګوت څنډنه کړې چې د مسکو پر وړاندې د ټرمپ اداري بې غوري نشي هیرولی او جبران به یې کړي. په دې بې غوریو کې د امریکا استخباراتي ادارو هغه راپور هم شامل دی چې ویلي یې وو: «د طالبانو تر نفوذ لاندې سیمو کې جنګیالیو د روسیې د نغدو پیسو په بدل کې امریکایي عسکر وژل.» بل دا چې د بایډن دفاع وزیر لویید استن له افغانستانه د امریکایي عسکرو وتل له وخته دمخه او په شرایطو پورې تړلي بولي او ناټو سازمان چې ځواکونه د روسیې سنتي سرحد ته نږدې د افغانستان په شمال کې میشت دي، تر راتلونکو دریو اونیو په افغانستان کې د خپل اوږدمهالي حضور په تړاو پرېکړه کوي. مسکو چې په سوریه کې یې فاطمیون جنګیالیو ته د روسي وسلو او پوځي تجهیزاتو د کارولو روزنه ورکړې او د فاطمیون د انشعابي جنګیالیو تر منځ د پام وړ نفوذ لري، د افغانستان د جګړې په دې ګرم بازار کې مناسبه نیابتي وسیله په لاس کې لري.

**طالبان، فاطمیون او ذینبیون**

جواد ظریف لاهم طالبان یوه ترهګره ډله بولي او وجه یې د طالبانو د حکومت پر مهال په بلخ کې د ایراني ډیپلوماتانو وژل ښیي، خو دښمن یې نه بولي او په تېرو شپږو میاشتو کې تهران دوه ځلې د طالبانو د پلاوي کوربه و. طالبان د ۱۹۹۵ کال محمد قواوي چې اوس فاطمیون بلل کیږي، څکه دښمنه ډله بولي چې په ۱۹۹۹ کال کې یې په بلخ کې د ایراني ډیپلوماتانو د وژلو په غچ کې په بامیانو او هرات کې څه باندې پنځوس طالبان په غلچکي بریدونو کې ووژل. ایران هڅه کوي چې د فاطمیون او طالبانو تر منځ وحدت رامنځته کړي او طالبانو ته یې ویلي چې د دوی او فاطمیون هدف یو دی، «امریکا دې له سیمې ووځي» او دا به د طالبانو ایډیال (اسلامي) حکومت رامنځته کیدو ته زمینه برابره کړي، خو طالبان له فاطمیون سره له ګډ کاره څکه وېره لري چې سعودي عربستان لا دمخه پر اسلام اباد فشار زیات کړی او ان خبرداری یې ورکړی چې په کراچۍ کې د فاطمیون لوا د خواخوږو، ذینبیون فعالیت کولی شي د پاکستان په ستر تجارتي ښار کراچۍ کې وضعیت خراب کړي او په بدل کې یې د ایران چابهار بندر غوړېدو ته زمینه برابره کړي. پاکستان هم یوازې په تیره یوه میاشت کې د ذینبیون پنځه مهم غړي نیولي.

**پایله**

په یوویشتمه پیړۍ کې په نړۍ کې جګړه د خصوصي کیدو پر لور روانه ده. امریکا متحده ایالاتو د بلک واټر په ملاتړ د افغانستان او عراق په جګړو کې هغه تکتیکونه وکارول، چې د جګړې د نړیوالو قوانینو نقض بلل کیږي. روسیه له هیڅ راز پوځي- امنیتي توافق پرته په سوریه او لیبیا کې د خپلو ګټو د ساتلو لپاره واګنر امنیتي کمپنۍ د نایب پوځ په توګه کاروي. د ایران مذهبي مشر ایت الله علي خامنه‌یي په ۲۰۱۶ کال کې د ایران انقلاب ساتونکي ځواک قوماندانانو ته په وینا کې هغوی ته سپارښتنه وکړه چې «د ایران په ښارونو کې د جګړې د اور بلېدو د مخنیوي لپاره باید د ایران له پولو بهر وجنګیږي او دښمن د ایران له پولو بهر په جګړه کې ښکیل وساتي.»

د ایران د بهرنیو چارو وزیر جواد ظریف د ۲۰۲۰ کال په ډسمبر میاشت کې له طلوع نیوز سره په مرکه کې په ښکاره د فاطمیون له ډلې ملاتړ وکړ او افغان حکومت ته یې وړاندیز وکړ چې د خپلې بقاء لپاره له فاطمیون ډلې ښه استفاده کولی شي. د جواد ظریف اشاره ظاهراً د فاطمیون په څیر نیابتي ډلو په ګډون د ایران له ملاتړه برخمنو ډلو له لارې د بشارالاسد حکومت ژغورل وو.

په سیمه کې وروستیو پېښو او د تازه اورپکو ډلو راټوکیدو ته په کتو، د ایران د تېرو کلونو د ادعا خلاف چې ویلي یې وو، نه غواړي چې مذهب د وسیلې په توګه وکاروي او د اورپکو ډلو په وسیله خپله سیاسي- مذهبي ایډیالوژي نورو هیوادونو ته خپره کړي، اوس تهران له امریکا او اسراییلو سره خپله دودیزه دښمني د منځني ختیځ له پولو بهر، په منځنۍ اسیا، جنوبي اسیا او د اسیا په زړه افغانستان کې پالي او هغه هم د هغو بومي نیابتي ډلو په وسیله چې په سیستماتیک ډول له منځني ختیځ څخه په مستقیم ډول خپلو متبوعه هیوادونو (افغانستان، پاکستان، هند) ته ستنې شوې؛ چیرته چې د ایران درې واړه سنتي دښمنان، امریکا، اسراییل او سعودي عربستان ستراتیژیکې ګټې لري.

**پای**

# په ټپه ولاړ مذاکرات؛

## ارګ د مذاکراتي پلاوي پنځه غړي کابل ته رابللي دي




په دوحه کې د مذاکراتو له دربېدو سره هممهاله ویل کېږي چې د افغان حکومت د مذاکراتي پلاوي ځینې غړي کابل ته راغلي دي. باوري سرچینې ویلي چې په راغلو غړو کې ځینې یې په جبري توګه رابلل شوي او ځینې یې بیا د ارګ له لوري را غوښتل شوي دي. له دې سره همهاله به کور د ننه وضعیت ترینګلی دی. هدفي بریدونه ډېر شوي او دواړه خواوې یو بل ته د شدیدو جګړو خبرداری ورکوي. د ملي مصالحې عالي شورا بیا له طالبانو غواړي چې ژر تر ژره بېرته د خبرو مېز ته ستانه شي.

په وروستیو کې داسې ګنګوسې خپرې شوې چې ګواکې افغان حکومت ښایي د بین الافغاني مذاکراتو لپاره د ټاکل شوي پلاوي ځینې غړي کابل ته راوغواړي. اوس تازه د دغه پلاوي ځینې غړي کابل ته راغلي دي. سره له دې چې د سولې په چارو کې د دولت وزارت د دغو کسانو راتګ تاییدوي، خو دا نه وایي چې دوی ګواکې د حکومت په غوښتنه راغلي دي. یوې باوري سرچینې ویلي چې په یوه تازه اقدام کې د بین الافغاني مذاکراتو لپاره د افغان حکومت پنځه غړي کابل ته رابلل شوي دي. په دې کسانو کې امین احمدي، رسول طالب، کلیم الله نقیبي، متین بیک او حبیبه سرابي شامل دي. سرچینې ویلي چې له دې ډلې د امین احمدي راتګ جبري ګڼل شوی؛ څکه هغه په یوه غږي پیغام کې د موقت حکومت مسئله له رسنیو سره شریکه کړې وه. سرچینه وایي: «له دې ډلې دا نور ارګ ښایي رابللي وي، خو د امین احمدي راتګ اجباري و؛ څکه هغه په یوه غږیز پیغام کې د موقت حکومت له جوړېدو او په دې تړاو احتمالي مسایل له رسنیو سره شریک کړي وو».

د سولې په چارو کې د دولت وزارت هم د یادو کسانو راتګ مني، خو په دې اړه نور جزیات نه ورکوي. د دغه وزارت ویانده ناجیه انوري وایي، چې د افغان مذاکراتي پلاوي راتګ یوه عادي مسئله ده او د پلاوي غړي تګ راتګ کولی شي. سرچینه بیا وایي، د مذاکراتي پلاوي په اړه پرېکړه کول او یا د دوی رابلل د ملي مصالحې عالي شورا صلاحیت دی، خو اوس دغه کسان ولسمشرۍ ماڼۍ رابللي دي. د سرچینې په خبره: «د ملي مصالحې عالي شورا د بین الافغاني مذاکراتو پلاوي رابللی شي، خو اوس دا کسان ارګ رابللي دي».

د بین الافغاني مذاکراتو پلاوی داسې مهال کابل ته راځي، چې په دوحه کې مذاکرات په ټپه ولاړ دي. د ملي مصالحې عالي شورا رییس ډاکتر عبدالله عبدالله هم تېره ورځ په یوه غونډه کې وویل چې طالبانو بېخي د مذاکراتو مېز پرې اېښې دی او خبرو ته نه حاضرېږي. د ده په خبره، سره له دې چې طالبانو په رسمي توګه د مذاکراتو ځنډېدل نه دي منلي، خو ډېره موده کېږي چې ان د تماس ډلو ترمنځ هم ناسته نه ده شوې. د ده په خبره، طالبان په دې توګه مذاکرات ځنډوي او د سولې لپاره د افغانانو هیلې له منځه وړي. عبدالله زیاته کړې: «طالبان د مذاکراتو له مېز په شا شوي دي. دوی په بین الافغاني خبرو کې د ځنډ لامل دي. زموږ پلاوی له بشپړ صلاحیت سره په دوحه کې دی او طالبانو ته په کار ده چې بېرته خبرو ته را ستانه شي».

ډاکتر عبدالله عبدالله همدا راز له نړیوالې ټولنې وغوښتل چې په بین الافغاني خبرو کې همکاري وکړي او په دې توګه دلته روانه جګړه پای ته ورسوي. نوموړي ټینګار وکړ چې افغان جګړه یوازې د خبرو له لارې د ختمېدو وړ ده او طالبانو ته په کار ده چې دا مهم فرصت ضایع نه کړي.

له دې سره جوخت د امریکایي پوځ د مرکزي قوماندانۍ قوماندان جنرال کینت مک کینزي هم ویلي چې امریکایي حکومت په ډیپلوماتیکه او نظامي توګه په افغانستان کې اوسنۍ وضعیت ارزوي او همدا راز هڅه کوي دا واضح کړي چې طالبانو پر ژمنو عمل کړی دی کنه. هغه ویلي شواهد ښیي چې طالبانو خپل بریدونه او هدفي وژنې ډېرې کړې دي او دا د منلو وړ نه دي.

# ملګري ملتونه: ایران او شمالي کوریا له بندیزونو سره سره، د میزایلو پروګرام په برخه کې همکارۍ پیل کړي

د ملګرو ملتونو یو تازه راپور وایي چې ایران او شمالي کوریا د میزایلو د پروګرام په اړه یوځل بیا په خپلو کې همکاري پیل کړې ده.

دغه راپور وایي، په تېر۲۰۲۰ز کال کې ایران او شمالي کوریا د لرې واټن ویشتونکو توغندیو د پروژو په پراختیا کې سره همکاري پیل کړې ده. د متخصصینو یوې خپلواکې ډلې چې پر شمالي کوریا د نړیوالو بندیزونو څارنه کوي، خپل دغه راپور د ملګرو ملتونو امنیت شورا ته وړاندې کړی دی.

په راپور کې ویل شوي چې د دواړو هېوادونو ترمنځ د دغې همکارۍ په ترڅ کې چې تېر کال یې بیا پیل کړې، د کښتیو په ذریعه د میزایلو مهمې پرزې ایران ته انتقال شوې دي. په راپور کې د ملګرو ملتونو د یو شمېر غړو چې نومونه یې نه دي څرګند شوي، یادونه شوې چې له دې ډلې سره یې د شمالي کوریا او ایران ترمنځ د لرې واټن ویشتونکو توغندیو د پراختیا په برخه کې د همکارۍ د بیا پیلېدو په اړه معلومات شریک کړي دي.

بلخوا په ملګرو ملتونو کې د ایران سفیر مجید تخت روانچي د دغو ادعاوو په غبرګون کې په تېره ډسمبر کې چې د دغه راپور موندنې ورسره شریکې شوې وې، د متخصصینو دغې ډلې ته ویلي چې پر محتوا یې له غور کولو وروسته دا نتیجه اخلي چې دوی په خپل راپور کې ممکن ناسم او جعلي معلومات کارولي وي.

په راپور کې پر شمالي کوریا د اټومي او بالستیک وسلو د پروګرامونو په خاطر څو لګول شوي بندیزونه څارل شوي او ویل شوي چې دغه هېواد تېر۲۰۲۰ز کال له دغو نړیوالو بندیزونو څخه په سرغړونې د خپلو اټومي او د میزایلو پروګرامونو پراختیا ته دوام ورکړی او هغه یې د سایبري بریدونو له لارې تمویل کړی دی.

دغه راز ویل شوي چې دا هېواد د ځینو بندیزونو تر خوا تېر شوی دی. د امریکا متحده ایالتو له اوږدې مودې راهیسې دواړه هېوادونه تورن کړي چې د میزایلو د پراختیا په برخه کې سره همکاري کوي. د ملګرو ملتونو د دغه راپور یوه کاپي چې بلومبرګ ترلاسه کړې، ویل شوي چې د ملګرو ملتونو څارونکو داسې معلومات ترلاسه کړي چې شمالي کوریا د ایران د شهید حاج علي موحد تحقیقاتي مرکز سره فضا ته د سپوږمکیو د توغولو په برخه کې هم همکاري کړې ده.

متحده ایالتونو ادعا کړې چې د ایران له فضایي او د سپوږمکیو له پروګرام څخه دوه ګونې استفاده کېږي او هغه د پرمختللو بالستیک توغندیو لپاره ډیزاین شوی دی. متحده ایالتو په تېر سپټمبر کې چې پر تهران‌یې نوي بندیزونه اعلا کړل، ویلي وو چې دغه مرکز د شمالي کوریا او ایران ترمنځ د میزایلو د پروګرامونو په برخه کې مهم رول لوبولی دی.

د ملګرو ملتونو د متخصصینو ډله دغه راپور داسې مهال خپروي، چې د امریکا د ولسمشر جو بایډن اداري د شمالي کوریا پر وړاندې د مخکیني ولسمشر ډونالډ ټرمپ د اداري پر پالیسۍ له سره غور کوي او د ایران په اړه یې ویلي چې که دا هېواد بېرته پر هغو ژمنو چې د نړۍ له قدرتونو سره د ۲۰۱۵ز کال په اټومي تړون کې یې کړي، ودرېږي، نو متحده ایالتونه به هم له دغه تړون سره یوځای شي.


## د کتــاب خبـرې

# د جاسوسۍ پېښلړ RAW, ISI او د سولې وهم

◎ لیکوالان: اې. اېس دولت، اسددورانی او ادېتیا سېنها
◎ ژباړه: د اکسوس د ژباړې بورډ

### څلورمه برخه

**کابوکي**



دولت: همدا خبره ده کنه. موږ ته یې بیه معلومه ده.
دوراني: ډیپلوماتان چې ستونزه حل نه‌شي کړای، موږ د جگړې لومړۍ کرښې ته ځو، د جگړې بیه موږ پرې کوو. د ډیپلوماتانو وسله د دوی کلمې دي، کلمې ځکه سره رد بدل کوي.
موږ یوازې کلمې سره نه تبادله کوو، نور مهم شیان هم سره تبادله کوو. زموږ نیت دا نه وي چې خبرې دې سره وغځوو، همدغه وجه ده چې موږ آرامه سره غږېږو.
دولت: پاکستاني ډیپلوماتان چې غبرگون وښیي، نو دوی چا ته ځواب ویونکي دي، ISI ته یا GHQ ته؟ دوی ترې پوښتنې گروېږنې کوي، که نه؟
دوراني: د دواړو پوښتنو ځواب«نه» دی، خو مخکې مې چې څه وویل هغه خبره ورسره جوړېږي. معمولاً ستاسې ډیپلوماتان تېز وي.
دولت: زموږ ډیپلوماتان؟
دوراني: «سویلي بلاک» د هند «جي اېچ کیو» بولي، خو تر هغې لا سخت دریځي دي.
دولت: په دې نارسمي ډیپلوماتیکو راشه درشو کې ولې ډېر له تېز کسانو سره مخ کېږو؟
دوراني: زموږ وال تېز وي؟
دولت: له دواړو لوریو.
دوراني: هو زمو له خوا به تاسو ته «عزیز خان» او «ریاض محمد خان» تېز ښکاري. دوی تېز خلک نه دي، که نور دې ولیدل پر دوی به لا شکر وباسې.
دولت: د «ریاض کهو کهر» اړوند را ته ډېر معلومات نشته، خو عزیز صېب له ډېر وخته راهیسې پېژنم. ما همېشه یو ښه او محترم شخصیت بللی او معقول انسان راته ښکاره شوی دی. خو په وروستیو کې، مثلاً زموږ په وروستۍ ناسته کې سړی یو څه تېز تلو. د ده په رویې کې دغه بدلون ولې راغلی و؟ په دې تړاو باید یو څه توضیحات وي.
دوراني: زموږ پر هیلو او هلو ځلو سربېره چې مسایل لا هماغسې کنگل پاتې وي، نو زموږ د هغو ډېرو ښو هم ځینې یې جنگ‌طلبه شي.
دولت: عزیز صېب به په غونډو کې اوږدې خبرې نه کولې، ډېر تشریحات به یې نه ورکول. شمېرلې خبرې به یې کولې. خو دا ځل چې به یې په خبرو کې را ودانگل، نو اوږدې خبرې به یې وکړې. زه یې څنگ ته ناست وم، چورت مې واهه چې دا هماغه پخوانی عزیز صېب دی، که نه؟
سېنها: لکه جنرال صېب چې وویل علت به یې همدا د سولې د لابي کوچنې کېدل وي.
دوراني: هغه پر دې باور درلود.
دولت: زموږ هغه ډیپلوماتان چې په اسلام کې سفیران وو، له خلکو سره ښې اړیکې لري.
دوراني: ټول نو دغسې نه و لکه ته چې یې وایې. مثلاً «G.Parthasarathy» در واخله. د کارگېل پر مهال دی په پاکستان کې و. خو چې بېرته لاړ...
دولت: زما له انده «پارتا» اوس هم معقول انسان دی، خو بس دا یې خوښېږي چې وروستۍ پرېکړه دی وکړي.
دوراني: کوم بل پخواني سفیر درک درته شته چې تر پارتا ډېر سخت دریځی وي.
دولت: دوی په نارسمي ډیپلوماټیکو اړیکو کې راسره ناست نه دي، نو ځکه خو یې نه پېژنم. د «سبهروال» غوندې یو کس، ټول وایي چې محترم شخصیت دی.
دوراني: «سبهروال» دومره بد انسان هم نه دی.
دولت: ستیابراتا پال.
دوراني: ډاډه یم چې یو ښه انسان دی.
دولت: تکړه سړی دی. کله کله راسره په ټلویزیوني بحثونو کې یو ځای وي، د پاکستان په تړاو مې تر ده معقول کس موندلی نه دی.یو ځل بیا یې وایم چې «ټي. سي. ای. رگهوان» معقول انسان دی.
دوراني: ما ځکه دا خبره وکړه چې یوازینی کس چې بېرته تللی او ډېرې هلې ځلې یې کړې نه دي.یو دوه تنه نور پېژنم چې تر تقاعد وروسته د یوې لوا قوماندانې لا کولای شي.

### ۱۹

### بي بي، میا صېب او عباسي

سېنها: فکر نه کوئ چې ډیموکراسي په پاکستان کې ښه پایله نه ده ورکړې؟
دوراني: په دې شک نشته چې دغسې ده. ډیموکراسي یوازې ټاکنو ته نه وایي، که څه هم د سم مسیر پر لور یو گام دی. د یوه لوی درستیز د خولې خبره به درته وکړم، ټولو ویل چې دغه سړی په واک مئین و. د بېنظیر بوټو د لومړۍ پلا صدارت پر مهال هرې خوا ته دا پس پسې روان وو چې هن وگورئ ملکي حکومت چارې سمې پر مخ بېولای نه‌شي. **دوام لري...**

# مفسد

اکسوس کتابپلورنځی



د ایمل پسرلي نوی ناول «مفسد» په حقیقت کې د یوې جگړې ځپلې ټولنې انځور دی. کیسه په کابل کې د جنایي پېښو د تحقیق د یوه امر «صادق» کیسه ده چې کاري ژوند یې له یوې دوې لارې سره مخامخوي. یا به مفسد کېږي او یا به د فساد په تور تورنېږي.
د کتاب پر پوښتۍ د ناول له منځه یوه برخه داسې راغلې: «په سیاست کې وفا نشته، په مفسدو خلکو کې رښتیا نشته، خو زه ولې او څرنگه مفسد وبلل شوم. شاید یوازینی بلل شوی مفسد یم چې فساد مې نه دی کړی، یا شاید زه غلط یم، قضاوت یې پر تاسو چې زه مفسد یم که د سکرو په کان ورپېښ شوم، له ټولو سره زه هم ککړ شوم. هسې دوره وه که پوره سکاره وو چې خیرن یې کړم؟ دلته هغه ټوله کیسه کوم چې څرنگه تر لویې څارنوالۍ راغلم...»
مفسد ناول د افغانستان او په تېره د کابل د تېر شل کلن ژوند ښکلی داستاني انځور دی.
دا یو له هغو گوته په شمار ناولونو څخه دی چې نوي څه پکې وینو. موضوع یې خورا ډېره په زړه پورې او جالبه ده. دا ناول د اوسنیو حالاتو مطابق لیکل شوی دی. هغه څېرې راته واضح کوي چې ډېر کسان وربانديې غولېدلي دي او ډېر غریب خلک د دوی د لاس آلې گرځېدلي دي.
د ناول یو کرکټر غریب سړی دی، دی صادقانه چلېږي، خو هېچا ته ارزښت نه لري. نه یې څوک خبرې اوري او نه یې پوښتنو ته ځواب ورکوي. په داسې حال کې چې ده ته یوه مهمه دنده سپارل کېږي، څو ویې څاري. یوازې دومره ورته ویل کېږي چې هغه کوه کوم چې درته ویل کېږي.
دا ناول له هغه تکراري ناولونو څخه نه دی چې موضوع یې یوه وي او د لیکنې بڼه یې بدله.
لسگونه داسې ناولونه به مو لوستي وي چې اصلي کرکټر یې یا مین وي او یا به یې هم ځان وژلی وي، یا یې مینه بایللې وي، یا ځوانه نجلۍ سپینږیري ته واده شوې وي او یا په عمر پخه ښځه تنکي ځوان ته کوژدنه شوې وي.
زموږ د ډېرو لیکوالانو چې یوې موضوع ته ورپام شي، تر هغه یې نه پرېږدي چې څو یې د لوستونکو زړه نه وي ترې ور تور کړی.
لیکوال باید نوي څه ولولي، نوي څه زده کړي او نوي څه ولیکي.
په دې ناول کې نه مین ځان وژنه کړې، نه له خپلې مینې سره ځنگله ته تښتېدلی او نه د نجلۍ پلار خپله لور وژلې ده. دا ناول نه راته پکلي کې گودر او منگی انځوروي چې شاعران او لیکوالان یې په لیکلو ستړي شول او نه د لوی برج پر سر شنې کوترې؛ بلکې داسې څېرې انځوروي چې خلک د دوی له لاسه له هوسایۍ او آرامۍ بې برخې دي. نه مو ناکې اوښکې له سترگو تویوي او نه مو له ژونده زړه توري کوي. د فاسدو سیاستوالو له رازونو پرده پورته کوي او د دوی بد شکله او خاینې څېرې چې عامه او غریب خلک یې د لوبې ښکار شوي، راښیي.
په دې ناول کې چې کوم څه راغلي دي، لوستل یې د هر چا لپاره ډېر این دي.
مینه‌وال کولای شي یاد ناول پر اکسوس سربېره د ښار له نورو لویو کتابپلورنځیو هم په مناسب قېمت تر لاسه کړي.

## روانه اونۍ اکسوس کتاب پلورنځي ته تازه راغلي کتابونه

| شمېره | د کتاب نوم | لیکوال / ژباړن | بیه |
|---|---|---|---|
| ۱ | THE F*CK IT DIET | CAROINE DOONER | ۱۸۰ف |
| ۲ | THe $100 STARTUP | Chris Gullebeau | ۲۰۰ف |
| ۳ | blink | Malcolm Gladwell | ۱۵۰ف |
| ٤ | Sometimes You Win SometimesYou Lost Learn | John C. Maxwell | ۲۰۰ف |
| ۵ | IKIGAI | Hector Garcia&Francesc Miralles | ۱۵۰ف |
| ٦ | No Excuses!( The Power of Self- Discipline) | Brian Tracy | ۲۰۰ف |
| ۷ | Good Vibes, Good Life | Vex King | ۲۷۰ف |
| ۸ | THE CODE OF THE EXTRAORDINARY MIND | VISHEN LAKHIANI | ۳۵۰ف |
| ۹ | Atomic Habits | James Clear | ۲۰۰ف |
| ۱۰ | NEVER SPLIT THE DIFFERENCE | CHRIS VOSS | ۲۰۰ف |
| ۱۱ | A Promised Land | Barack Obama | ۵۵۰ف |
| ۱۲ | Let Her Fly | ZIAUUDDIN YOUSAFZAI | ۱۵۰ف |
| ۱۳ | YES TO LIFE | VIKTOR E. FRANKL | ۱۳۰ف |
| ۱٤ | EMPTY BOTTLES FULL of STORIES | ROBERT M. DRAKE | ۱۸۰ف |
| ۱۵ | anxious for noTHING | MAX LUCADO | ۳۵۰ف |
| ۱٦ | TED Talks | Chris Anderson | ۲۲۰ف |
| ۱۷ | The Forty Rules Of Love | Elif Shafak | ۲۲۰ف |
| ۱۸ | To Kill a Mockingbird | VINTAGE LEE | ۲۰۰ف |
| ۱۹ | Master Your TIME Master Your Life | Brian Tracy | ۱۵۰ف |
| ۲۰ | Becoming | Michelle Obama | ۳٦۰ف |
| ۲۱ | The Subtle Art of Not Giving A Fuck | Mark Manson | ۱۷۰ف |
| ۲۲ | Zero To One | Peter Thiel | ۱٤۰ف |
| ۲۳ | The Pilgrimage | Paulo Coelho | ۱۰۰ف |
| ۲٤ | I'm Ok, Your Ok | Thomas A. Harris | ۲۰۰ف |
| ۲۵ | Happier 10% | Dan Harris | ۱۸۰ف |
| ۲٦ | On The COMe Up | ANGIE THOMAS | ۳۰۰ف |
| ۲۷ | Jump: Take the Leap of Faith to Achieve Your Life of Abundance | Steve Harvey | ۱۷۰ف |
| ۲۸ | “Snow a Novel” | Orhan Pamuk | ۳۳۰ف |
| ۲۹ | You | Caroline Kepnes | ۲۸۰ف |
| ۳۰ | مفسدناول | ایمل پسرلی | ۱۷۰ف |

**په خپل کور او کار ځای کې د کتابونو د تر لاسه کولو لپاره له لاندې شمېرو سره اړیکه ونیسئ**

پته: دهبوریو پارک جنوبي دروازې ته مخامخ     اړیکه: 0798-98-9696 - 0202504652

## اقتصاد

### د اسعارو بیې

| | |
|---|---|
| $ | ۷۷,۳ |
| € | ۹۲,۸۵ |
| Rp. | ۴۸۰ |
| ₹ | ۱۰۵۵ |
| ¥ | ۱۱ |
| £ | ۱۰٤,۳ |

### بیړنۍ شمېرې

پولیس
119 - 100

امبولانس
112

اتاترک روغتون
0202500312

ملالی زېږنتون
0202201377

وزیر محمد اکبر خان روغتون
0202301360

رابعه بلخي روغتون
0202100439

د کرونا روغتیایي مرکز
166

همیاني

# څنګه کولای شي یو عالي همکار و اوسئ؟

ژباړه: امان الله حنیفي

دا چې یو ښه همکار ولرئ، باید یو ښه همکار و اوسئ. د دې لپاره چې یو ښه همکار و اوسئ باید:

۱ـ د همکار برنامې ته مو له خپلې هغې ترجیح ورکړئ. له خپلو همکارانو سره مو شریکې نقطې پیدا کړئ او د هغوی برنامو ته تر خپلې هغې ترجیح ورکړئ.

۲ـ هره ورځ مو د همکارانو ارزښت لوړ کړئ. نورو ته ارزښت ورکول هغه یوازینۍ لار ده چې په یوه همکاریزه اړیکه کې ښه پایله ورکولای شي. همکاریزه اړیکه د هرڅه تر غوښتلو او تر لاسه کولو د مخه دوه لوري له پاشل کېدو ژغوري. چینایان یو متل کوي: «یو کس کولای شي د کم وخت لپاره رهبر و اوسي، خو له نورو سره د مرستې کولو په مټ بیا کولای شي د ډېر وخت لپاره رهبر و اوسي.»

۳ـ همکارانو ته مو د اعتبار، ایډیاوو او ابزارو منبع په لاس ورکړئ. زما د ژوند تر ټولو ښې شېبې هغه دي چې نورو ته د هغوی د پرمختګ منابع په لاس ورکوم. زه د رهبرۍ په اړه د تدریس په لومړیو کې پوه شوم چې یوازې زده کړې کافي نه دي. که خلکو ته د زده کړو تر څنګ مناسب منابع هم په لاس ورکړم، هغوی به د رهبرۍ تر ټولو ښې سطحې ته ورسېږي. په همدې دلیل غواړم له هغوی سره دا درې منابع شریکې کړم:

**الف- باور: داسې څوک پېژنم چې ښه ده هغوی یې هم وپېژني؟**

زه له ښو خلکو سره له معرفي کېدو او پېژندو ډېره ښه استفاده کوم. تاسې داسې څوک پېژنئ چې ښه ده همکار مو یې هم وپېژني؟ څنګه کولای شی دوه هغه کسان چې هېڅ ممکنه نه ده مخامخ سره ووینې، له یو بل سره په اړیکه کې کړئ؟ دا د نورو ارزښت لوړولو لپاره تر ټولو ښه لاره ده.

**ب- ایډیاوې: زه پر کومو څېزونو پوهېږم چې هغوی هم باید پوه شي؟**

کن بلاپخادر وایي: «نورو زموږ لپاره تر ټولو ښه فکرونه کړي دي.» دا جمله زما په حق کې هم صدق کوي. څنګه کولای شی د خپلو ایډیاوو په شریکولو سره له نورو سره مرسته وکړئ؟ کوم څه هغوی ته ورکولای شی چې هغوی یې په خپله ځان ته نه شي برابرولی؟ هرکله چې خپله ایډیا له نورو سره شریکوی، یوڅه له تاسې کمېږي، خو د همکار د ارزښت کچه مو تر ډېره حده لوړېږي.

**ج- ابزارونه: زه له څو استفاده کوم چې هغوی هم وکولای شي له هغه استفاده وکړي؟**

ابزارونه هغه لارې چارې دي چې موږ تر بریا رسوي. زه باوري یم چې په ځانګړو لارو عمل کول مطلوبو پایلو ته د رسېدو تر ټولو ښه لاره ده او باوري یم چې همدا تر ټولو ښې لارې چارې دي. تاسې داسې کومې ځانګړې لارې چارې پېژنئ چې همکار مو د هغه په تې کولو سره نور هم پیاوړی شي؟

۴- له همکار سره مو د اړتیاوو په پوره کولو کې مرسته وکړئ. د یو رهبر په حیث زما لومړی مسوولیت دا دی چې تاسې، ستاسې سازمان او ستاسې اړتیاوې وپېژنم او پوه شم چې څنګه کولای شم ستاسې ارزښت لوړ کړم. څنګه دا کار کولای شم؟ په پوښتنې کولو سره. پوښتنه کول تر ټولو ښه اړیکه ټینګوونکې لاره ده. د فرضیو پر اساس رهبري بې اغېزې ده.

ایا د خپل همکار د اړتیاوو پوره کولو په خاطر له هغه سره همکاري کوی؟ که داسې نه وي، ډېر وخت به ونه شی کولای چې خپلې همکارۍ ته دوام ورکړی.

۵- هېڅ وخت مو باور له لاسه مه ورکوئ. باور د هرې تلپاتې اړیکې اساس دی. باور یو په یو نه رامنځ ته کېږي، بلکې د هغه د تر لاسه کولو لپاره باید ډېر وخت مصرف کړئ. کله چې باور رامنځ ته شي، هغه وخت به مو د همکارۍ له اړیکې ډېره ګټه تر لاسه کړی.

٦- د هر کار د تر سره کولو پر مهال تر هغه چې له تاسې یې تمه کېږي، ښه و اوسئ. کله مې چې کار شروع کړ، هېچا له ما ډېره تمه نه درلوده. نو پر دې اساس، خپله مې د خپل ځان لپاره لویې تمې پلان کړې او د هغه د تر لاسه کولو لپاره مې ډېره هڅه وکړه. هرڅومره مې چې د پرمختګ او اصلاح پر مسیر مخکې ګامونه اخیستل، پر خپلو تمو مې تمرین هم هومره ورسره لوړ شو او کله مې چې هغه کار تر سره کړ، ډېره ښه پایله مې تر لاسه کړه.

۷- اړیکو ته مو احترام ولرئ او په دې برخه کې پرمختګ وکړئ. ډېری وخت خلک یو مشارکت او همکارۍ رامنځ ته کوي او له لږ وخت وروسته هغه له پامه غورځوي. کله چې دا ډول پېښه رامنځ ته شي، همکاري خرابېږي او یو ډول بې باوري ځای نیسي. دا بې باوري د بېلوالي پیل دی، په همدې دلیل زه هر وخت هڅه کوم چې د همکار او د هغه د همکارۍ احترام وکړم او د نورو احترام خپلولو لپاره ډېره هڅه کوم. د نن ورځې همکاري د هغه احترام په واسطه چې تاسې پرون تر لاسه کړی و، ادامه نه شي پیدا کولی، دا احترام باید پرله‌پسې زیات شي. له ځانه وپوښتئ: «کوم کار تر سره کولای شم څو په پرله‌پسې ډول احترام خپل کړم؟»

• مخکې له دې چې اړ شم باید توجه وکړم
• مخکې له دې چې اړ شم، باید خدمت وکړم
• مخکې له دې چې اړ شم، باید کار وکړم
• مخکې له دې چې اړ شم، باید تولید وکړم
• مخکې له دې چې اړ شم، باید پرمختګ وکړم

کله چې دا کارونه تر سره کوم، نه یوازې دا چې ښه والی احساس کوم، بلکې د نورو احترام هم خپلوم. ایا تاسې خپلو همکارانو ته احترام لرئ؟ ایا د خپل احترام تر لاسه کولو لپاره ډېرې هڅې کوئ؟ هغه کسان چې له تاسې سره کار کوي، بې اهمیته یې مه بولئ او د هغوی کارونو ته په ارزښت قایل شئ. هاوارد شولتز وایي، هغه بریا چې د یو کس له هڅې نه، بلکې د څو کسانو له ګډې همکارۍ لاس ته راغلې وي، ډېره مانا لرونکې ده.

«هغه بریا چې د یو کس له هڅې نه، بلکې د څو کسانو له ګډې همکارۍ لاس ته راغلې وي، ډېره مانا لرونکې ده.»

# امریکا: طالبانو په بریدونو او هدفي وژنو کې د پام وړ ډېروالی راوستی

امریکا وایي، طالبانو تاوتریخوالی او هدفي بریدونه ډېر کړي دي. د امریکایي پوځ د مرکزي قوماندانۍ قوماندان جنرال کېنټ مک کینزي په خپله یوه تازه مرکه کې ویلي، د دوی معلومات ښیي چې طالبانو تاوتریخوالی ډېر کړی دی او د افغانستان په هره برخه کې هدفي بریدونه ترسره کوي.




نوموړي دا نه دي ویلي چې اوس به امریکا پر کوم اقدام لاس پورې کوي، خو ټینګار یې کړی چې د خبرو له لارې د افغان جګړې ختمولو ته لومړیتوب ورکوي. مک کنیزي همدا راز ویلي چې امریکایي نظامي او ډیپلوماتیکي اداري دمګړی د امریکا او طالبانو د هوکړې پر ارزونه بوختې دي او ښایي ډېر ژر په دې اړه خپل دریځ روښانه کړي.


د نوموړي په خبره، د دوحې له هوکړې وروسته د ټولو خواوو تمه دا وه چې طالبان به تاوتریخوالی کم کړي او بین الافغاني خبرې به پایلې ته ورسوي، خو عیني واقعیتونه ښیي چې طالبانو د جګړو د ختمولو پر ځای جګړې شدیدې کړې دي او تاوتریخوالی یې ډېر کړی، چې د هغه په وینا دغه وضعیت د سولې روان بهیر له خنډونو سره مخ کړی دی.

دا په داسې حال کې ده چې تر دې وړاندې د امریکا د دفاع وزارت نورو چارواکو هم ویلي وو چې طالبانو تاوتریخوالی ډېر کړی او پر هوکړو یې ژمنه نه ده کړې.

د یادونې ده چې د په افغانستان په پراخه کچه روان تاوتریخوالي او په امریکا کې د نوي حکومت راتګ د سولې خبرې تر سیوري لاندې راوستې او د دوحې هوکړې د عملي کېدو په اړه یې اندېښنې ډېرې کړې دي.

# ډېر ژر به د هند په مالي مرسته د شاه توت بند د رغونې چارې پیل شي

د افغان او هندي چارواکو ترمنځ په کابل ولایت کې د شاه توت د اوبو بند جوړولو تړون لاسلیک شو. یاد تړون تېره ورځ په انلاین غونډه کې د ولسمشر غني او د هند د لومړي وزیر نرېندرا مودي په حضور کې د افغانستان او هند د بهرنیو چارو وزیرانو ترمنځ لاسلیک شو.



ولسمشر غني د یاد تړون مراسمو کې وویل چې د شاه توت اوبو بند جوړول به د کابل اوسېدونکو لپاره د اوبو د تامین په سرچینې بدل شي. هغه د افغانستان د خلکو په استازیتوب د هند له حکومت مننه وکړه چې د کابل خلکو ته د اوبو ډالۍ ورکوي.

نوموړي زیاته کړه چې په افغانستان کې د اوبو بندونو جوړولو کارونه یو پر بل پسې روان دي، چې په وینا یې داخل د شاه توت بند جوړولو نوبت دی. ولسمشر غني د سلما،کمال خان، شورابک، د کجکي دویم فاز او شاه و عروس هغه بندونه یاد کړل، چې د ځینو کارونه تکمیل شوي او ځینې نور به یې هم ډېر ژر بشپړ شي.

بلخوا د هند لومړي وزیر نرېندرا مودي د شاه توت اوبو بند جوړول د افغانستان او هند ترمنځ د اړیکو ټینګه نښه وبلله او زیاته یې کړه چې دا بند به د کابل خلکو لپاره اوبه برابرې کړي. د اوبو چارو د تنظیم ملي ادارې د معلوماتو په اساس، د یاد بند پر جوړولو باندې ۲۸٦میلیونه ډالره لګښت راځي چې د هند هېواد لخوا ورکول کېږي.

د یادې ادارې ویاند نظام الدین خپلواک ویلي، چې ټاکل شوې د شاه توت اوبو بند جوړولو چارې ډېر پیل شي. د اوبو دغه بند د کابل ښار جنوب لوېدیځ ۱۸ کیلومترۍ کې د چهار اسیاب ولسوالۍ په «تنګي للندر» سیمه کې موقعیت لري.

د اوبو د چارو تنظیم ملي اداره وایي، دا بند به شاوخوا څلور زره هکتاره ځمکه خړوبه کړي او د کابل دوه میلیونه وګړو ته به د څښاک اوبه برابرې کړي. د یادې ادارې د معلوماتو په اساس، دا بند به ۹۲ متره لوړ وي او ٦۰ متره پلنوالی به ولري چې په شپږو کلونو کې به یې د رغونې چارې بشپړې شي.

دا په داسې حال کې ده، چې وړمه ورځ یادې ادارې خبر ورکړ چې په کابل ولایت کې د شاه و عروس اوبو بند کې به هم د اوبو ټولولو بهیر د راتلونکي ۱۴۰۰ کال په ورې میاشت کې پیل شي.

مسیر ورځپاڼه
**مسوول مدیر:** اسدالله وحیدي
**مرستیال:** شفیق امیرزی
**ایډیټران:** جواد تیموري او امان الله حنیفي
**خبریالان:** حمیدالله حمیدي، حکمت آرین
او حشمت الله نوري
**ګرافیک او ډیزاین:** ارمان
**چاپخونه:** وایګل چاپ ۰۲۰۲۵۱۲٦۲٦
۰۷۸۲۹۸۹٦۹٦

maseerdaily@gmail.com
0202502100 / 0777989696
www.maseerdaily.af
Maseer Daily
MaseerDaily

# Maseer

New Vision, New Journey

Daily



غوره کیفیت او چټک خدمات په
وایګل چاپ کې تجربه کړئ!

WAYGAL PRINTING CO

if You Can Think it, we Can ink it.

+93 (0) 202 51 2626, +93 (0) 782 98 9696
Dehbori Crossroads in Front of Park Kabul
waygalprinting.co
waygalprinting.co@gmail.com



چهارشنبه د ۱۳۹۹ د سلواغې ۲۲مه | د ۲۰۲۱ د فبروري لسمه |۶۷۹یمه ګڼه

www.Maseerdaily.af twitter/MaseerDaily Facebook/MaseerDaily



| کابل | هرات | کندهار | بلخ | ننگرهار | خوست |
|---|---|---|---|---|---|
| ۱۸ | ۲۲ | ۱۷ | ۱۹ | ۲۵ | ۱۵ |
| ۰ | ٤ | ۵ | ۱۰ | ۸ | ۳ |

شرعي وختونه: سهار ۰۵:۲۰ | لمر ختل ۰۶:٤٤ | ماسپښین ۱۲:۰۸ | مازیگر ۰۲:۲۵ | ماښام ۰۳:۵۳ | ماخوستن ۰۶:۵۷

## نړۍ




## راپورونه: په میانمار کې د پولیسو او د پوځي کودتا ضد لاریونوالو ترمنځ نښتې شوې



د راپورونو له مخې، په میانمار کې د پولیسو او د پوځي کودتا پرضد د اعتراض کوونکو ترمنځ تازه نښتې شوې دي.
دا اعتراضونه پر دې سربېره هم روان وو، چې د نوي پوځي حکومت چارواکو خبرداری ورکړی و چې لاریونونه ثبات ګواښي، نو د دوی پرضد به لاس پر کار شي.
د یادونې ده چې له نږدې یوې اونۍ راهیسې په میانمار کې د نوي پوځي حکومت پر وړاندې پراخ لاریونونه پیل شوي دي. څو ورځې وړاندې د دغه هېواد منتخب مشره انګ سان سوچي د یاد هېواد د پوځ له خوا ونیول شوه او پوځ د حکومت کنټرول په خپل لاس کې واخیست.
د پوځ له دغه اقدام وروسته په میانمار کې پراخ لاریونونه پیل شوي او اعتراض کوونکي غواړي چې واک بېرته ملکي حکومت ته وسپارل شي، انګ سان سوچي او نور هغه سیاسي مشران چې د فبروري په لومړۍ نیول شوي دي، بېرته خوشې شي.
د راپورونو له مخې پولیسو په پلازمېنه ناییپیتاو، یانګون او د میانمار په اکثرو نورو ښارونو کې د لاریونوالو د خورېدو لپاره هوایي ډزې کړې دي او پر هغوی یې اوبه شیندلي دي. پوځ دغه راز په ښارونو کې تر پنځو تنو د زیاتو کسانو یوځای کېدل منع کړي او د شپې په مخه یې ګرځبندیز اعلان کړی دی.

### تازه شمېرې:
## په امریکا کې د کرونا د مړو شمېر ۴۷۶ زره او ۴۱٦ کسانو ته رسېدلی

د تازه شمېرو له مخې، په نړۍ کې پر کرونا ویروس د اخته کسانو شمېر ۱۰۷ میلیونه او سل زره او ۱۱۲ کسانو ته رسېدلی دی. دغه راز د یاد ویروس له کبله تر دې مهاله دوه میلیونه او ۳۳۸زره او ۸۹۷ کسان مړه شوي او نږدې ۷۹ میلیونه نور ترې بېرته رغېدلي دي. د یادو شمېرو له مخې، د امریکا متحده ایالتونه د دغه ویروس د ډېرو مثبتو پېښو او قربانیانو له اړخه د نړۍ تر ټولو مخکښ هېواد دی. د راپوروونو پر بنسټ، په امریکا کې د دغه ویروس مثبتې پېښې ۲۷ میلیونه او ۷۰۱ زره او ۹۱۸ ته رسېدلي او ۴۷٦ زره او ۴۱٦ نور امریکایان ترې مړه شوي دي. دغه راز هند د ۱۰ میلیونه او۸۴۷ زره او ۷۹۰مثبتو پېښو له اړخه د نړۍ دویم، برازیل د نهه میلیونه او ۵۵۰ زره او ۳۰۱مثبتو پېښو په درلودو سره د نړۍ درېیم، روسیه د درې میلیونه او ۹۹۸ زره او ۲۱٦ مثبتو پېښو له اړخه د نړۍ څلورم او برېټانیا د درې میلیونه او ۹۵۹ زره او ۷۸۴مثبتو پېښو په درلودو سره د نړۍ پنځم هغه هېواد دی، چې د کرونا ویروس ډېرې پېښې پکې ثبت شوې دي. فرانسه، هسپانیا، ایټالیا، ترکیه او جرمني بیا په ترتیب سره شپږم، اووم، اتم، نهم او لسم هغه هېوادونه دي چې د کرونا له کبله ډېر ځپل شوي دي.


## چهار کارمند ریاست انکشاف دهات میدان وردک در کابل ترور شدند



وزارت احیا و انکشاف دهات در یک خبرنامه تأیید می‌کند که سرپرست و سه کارمند ریاست احیا و انکشاف دهات ولایت میدان وردک در شهر کابل، ترور شدند.
در خبرنامه آمده‌است که ریاض‌احمد خلیل، سرپرست ریاست احیا و انکشاف دهات میدان وردک، حبیب‌الله، مدیر خدمات اجتماعی، انجنیر فرید و رانندهٔ شان در این حمله، جان باختند.
پولیس کابل نیز در یک خبرنامه گفته‌است که این رویداد حوالی ساعت ۹:۲۰ دقیقهٔ بامداد دیروز در منطقهٔ باغ داوود در حوزهٔ پنجم شهر کابل هنگامی رخ داد که افراد مسلح ناشناس بر موتر حامل کارمندان ریاست احیا و انکشاف دهات میدان وردک، تیر اندازی کردند .پولیس کابل افزوده‌است که بررسی‌ها دربارهٔ این رویداد، ادامه دارند.
حدود یک هفته پیش، سیگار یا بازرس ویژه امریکا برای بازسازی افغانستان در یک گزارش تازه‌اش گفت که حمله‌های هدفمندانهٔ طالبان و گروه داعش بر مقام‌های حکومتی، رهبران جامعهٔ مدنی، کارمندان و خبرنگاران در کابل و دیگر ولایات، افزایش یافته‌اند.
در گزارش افزوده شده‌است که بیشتر حملات هدفمندانه در ولایت‌های کابل، هلمند و کندهار، صورت گرفته‌است.
گزارش می‌افزاید که با وجود خواست‌های مقام‌های امریکایی از طرف‌های درگیر جنگ برای پایان خشونت‌ها در این کشور برای پیشرفت‌ها در روند صلح افغانستان، هنوز هم خشونت‌ها، ادامه دارند.

## ژوند

## ګلکسي اې۳۲ (۵جي) بازار ته وړاندې شو



سامسُنګ کمپنۍ تایلینډ کې د ګلکسي اې لړۍ نوی ځیرک موبایل چې ګلکسي اې۳۲ ۵جي نومول شوی دی، معرفي کړ. دغه ځیرک موبایل له ۵جي څخه ملاتړ کوي او مېډیاټېک پروسېسر پکې کارول شوی دی. ګلکسي اې۳۲ ۵جي ٦,۵ انچه ایچ ډي پلس ډوله مخپاڼه لري. دغه ځیرک موبایل کې مېډیاټېک ډېمنېسټي۷۲۰ ډوله پروسېسر او ۸ ګیګابایټ رم ورکړل شوی دی. ګلکسي اې۳۲ ۵جي به ۱۲۸ ګیګابایټ د فایل ثبتوني وړتیا ولري چې کاروونکي دغه وړتیا د میموري کارت له لارې تر دې هم لوړولی شي. شاتنۍ برخه کې څلور کامرې لري چې ۴۸ مېګاپکسله اصلي، ۸ مېګاپکسله الټراوایډ، ۵ مېګاپکسله مکرو او ۲ مېګاپکسله ډېپت سېنسر پکې شامل دي. مخکینۍ برخه کې ۱۳ مېګاپکسله وړتیا لرونکې سېلفي کامره هم لري. دغه ځیرک موبایل کې ۵۰۰۰ ملي امپیره وړتیا لرونکې ستره بېټرۍ ورکړل شوې چې له ۱۵ واټ چټک چارج څخه هم ملاتړ کوي. د دغه ځیرک موبایل بیه ۹۹۹۹ تایلینډي باټ ټاکل شوې چې تقریباً ۲۵۷۰۰ افغانۍ کېږي.

## دغه خواړه د اعصابو له پیاوړتیا سره مرسته کوي


مغز او اعصاب خوړو ته هماسې اړتیا لري لکه زړه، عضلات او د وجود نور غړي یې چې لري؛ خو کوم خواړه د مغز له پیاوړتیا سره مرسته کوي؟

۱-چهارمغز

چهارمغز د اعصابو د ساتنې مواد لري. په چهارمغزو کې ویټامینE، اوسپنه، اومیګا ۳ غوړ او انټي اکسیډنونه شته. څېړنو ښودلې چې د غوزانو خوړل ستاسو د اعصابو له پیاوړتیا سره مرسته کوي. په یوه څېړنه کې موندل شوي چې غوزان د هغه سټرېس کمولو کې هم مهم رول لري چې د عمر په زیاتیدو پیدا کیږي.

۳- کبان

کبان د اومیګا۳ غوړو اسېدو غوره سرچینه



ده. دا مرسته کوي چې مغز ښه کار وکړي. ماشومانو ته وخت ناوخت د ماهي غوښه ورکول د هغوی د تمرکز ځواک پیاوړی کوي. هغوی چې ډېره د ماهي غوښه خوري، پر اضطراب او ژور خپګان د اخته کیدو خطر یې تر نورو کم دی.

۴-شنې پاڼې لرونکې سابه

پالک او نور شنه سابه له ډېرو غوره موادو مالامال دي. سابه د اعصابو د ښه فعالیت لپاره یو تر ټولو غوره خواړه ګڼل کیږي.


عزیزي بانک
Azizi Bank

د ازي پې (AZIPAY) پرمختللې بڼه

عزیزي بانک خپلې د ازي پې بڼې ته پراختیا ورکړې چې تاسو ته پراخ خدمتونه او ګټې لکه: بایومتریک ننوتل-د ګوتې او مخ پېژندنې له لارې، څو ژبې (پښتو، دري او انګلیسي) کارول، د ډالرو کارونه، د صورت حساب او کوچنی سټېټمنټ لیدل، د صرافۍ خپلکاره ماشین څخه د ازي پې پرمټ د کارت پرته پیسې وېستل، د مبایل شمېرې ته پیسو استول او د د صرافۍ خپلکاره څخه یې ماشین ترلاسه کول، د مبایل شمېرې ته کریډیټ زیاتول، د بل اداینه او نورې برخې وړاندې کوي

مهرباني وکړئ نوې بڼه یې له اپستور او پلې ستور څخه ډونلوډ (ښکته) کړئ، د لازیاتو معلوماتو لپاره 1515 شمېرې سره اړیکه ټینګه کړئ.

www.azizibank.af 1515

